# د غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه په زړونو باندې حکومت

15-October-2024



## د اجتماعِ غوثیه بیان

(for Islamic Brothers)

## د اجتماعِ غوثيه بيان

(11 ربيع الآخر کال 1446ھ/16 اکتوبر، کال 2024ء، لوئيه يولسمه شريف)

# د غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ پهٔ زړونو باندې حکومت

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... امتحان اخستونکي پخپله پهٔ امتحان کښې پريوتل
- ...آيا څوک پهٔ زړونو باندې قبضه کولے شي؟
- ... د اللّٰه والؤ پيژندګلو
- ... عِلمِ دِين زده کول ولې ضروري دي؟

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُالْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ : بیاناتِ دعوتِ اِسلامی)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د اربعین عطّار، قسط: 2، صفحه: 3، حدیثِ پاک نمبر: 3 دے:

اَیُّمَا رَجُلٍ مُسْلِمٍ لَمْ یَکُنْ عِنْدَهُ صَدَقَةٌ فَلْیَقُلْ فِی دُعَائِهِ: اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُولِكَ وَصَلِّ عَلَى الْمُؤْمِنِینَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُسْلِمِینَ وَالْمُسْلِمَاتِ فَإِنَّهَا زَكَاةٌ وَقَالَ: لَا یَشْبَعُ الْمُؤْمِنُ خَیْرًا حَتّٰى یَكُونَ مُنْتَهَاهُ الْجَنَّةُ[1]

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے**: د کوم مسلمان سره چې د صدقې کولو د پاره څۀ نه وي هغۀ له پکار دي چې پۀ خپله دُعا کښې دا وائي: اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُولِكَ وَصَلِّ عَلَى الْمُؤْمِنِینَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُسْلِمِینَ وَالْمُسْلِمَاتِ نو دا زکوٰة دے او مؤمِن چرې هم پۀ خیر نه مړیږي تر څوچې جنَّت د هغۀ ځائے جوړ نشي.

**شرح حدیث**: کوم کَس چې د صدقې کولو وَس نه لري د هغۀ د رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره د **اللّٰه** پاک نه د رحمت سوال کول یعني دُرُودِ پاک لیږل د هغۀ د پاره صدقه ده.[2]

جن کا لقب ہے مصطفٰے صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ | ان سے ہمیں خدا ملا صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ

---

1 ...صحیح ابن حبان، جلد: 2، صفحہ: 130، حدیث: 900۔
2 ...السراج المنیر بشرح جامع الصغیر، جلد: 2، صفحہ: 232 ماخوذاً۔

مشکلیں ان کی حل ہوئیں قسمتیں ان کی کھل گئیں | وِرد جنھوں نے کرلیا صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ [1]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے. [2]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي. راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیَّتونه وکړو: مَثَلاً ❀ د اللّٰه پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښینم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، ښخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش به کووم.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه مختصر تعارف

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شهنشاهِ بغداد، حُضُورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه ډیره مشهوره هستي ده ❀هغوئي حسني حسیني سَیِّد دے ❀ د هغوئي نوم مبارک: عبد القادِر او کُنیت: ابو محمد دے ❀ مُحْیُ الدِّین (یعني دین ژوندے کوونکے) او غَوْثُ الثَّقَلین (یعني د پیریانو او د انسانانو غوث، مدد کوونکے) د هغوئي مشهور اَلقابات دي. حُضُورِ غوثِ اعظم شیخ عبد القادر جیلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه پهٔ 470 هجرئ کښې پهٔ جیلان کښې پیداشو ❀ 91 کاله پهٔ دې دنیا کښې تشریف فرما وو ❀ پهٔ 561 هجرئ کښې هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه د دنیا نه پرده وفرمائیله.

---

[1] ... دیوانِ سالک، صفحہ: 24-25 ملتقطاً۔

[2] ... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ: 65، حدیث: 1۔

واہ کیا مرتبہ اے غوث ہے بالا تیرا | اُونچے اُونچوں کے سَروں سے قدم اعلیٰ تیرا
سَر بھلا کیا کوئی جانے کہ ہے کیسا تیرا | اولیا مَلتے ہیں آنکھیں وہ ہے تلوا تیرا
کیا دَبے جس پہ حِمایت کا ہو پنجہ تیرا | شیر کو خطرے میں لاتا نہیں کُتّا تیرا
مصطفٰی کے تنِ بے سایہ کا سایہ دیکھا | جس نے دیکھا مری جاں جلوۂ زیبا تیرا[1]

## د یولسمې والا پیر وئیلو وجه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دلته عام طور حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃُ اللہِ علیہ ته د یولسمې والا پیر [د یولسمې څوان] وئیلے شي، هسې هم د حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃُ اللہِ علیہ د ایصالِ ثواب محفلونو وغیره ته یولسمه شریف وئیلے شي. د دې ډیرې وجهې دي، مثلاً
❁ د حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃُ اللہِ علیہ د وصال ورځ 11 ربیع الثاني ده، څکه هغوئي ته د یولسمې پیر وئیلے شي ❁ د حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃُ اللہِ علیہ سلسلۀ نسب په 11 واسطو سره حضرت امام حسن مجتبیٰ رضی اللہ عنہ ته رسي[2] ❁ د هغوئي شجرۀ طریقت (یعنې د هغوئي پیر صاحب، بیا د هغوئي پیر صاحب، بیا د هغوئي پیر صاحب دا چې کومه لړۍ ده، دا شجره شریف هم) په 11 واسطو سره حضرت علي المرتضیٰ، شیر خدا رضی اللہ عنہ ته رسي
❁ د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رحمۃُ اللہِ علیہ په خپل کتاب جاءَ الحق کښې د دې بل یو ډیر ښکلے او ایمان تازه کوونکے سبب لیکلے دے. لیکي چې حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃُ اللہِ علیہ به 12 شریف یعنې د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم میلاد شریف ډیر په پابندۍ سره کولو، یوه ورځ رسول ذیشان، مکي مَدَني سلطان صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم په خوب کښې تشریف راوړلو او اوئې

---

1... حدائقِ بخشش، صفحہ: 19ملتقطاً۔
2... زبدۃ الآثار، ذکر نسبہٖ وصفتہٖ، صفحہ: 35-36۔

فرمائیل: **عبد القادره! تا مونږ پۀ دولسمه یادکړلو، مونږ تا له یولسمه درکوو.** دا سرکاري عطیه ده، ځکه پۀ ټوله دنیا کښې خوره شوه. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د صدو تیریدو نه پس اوس هم د غوثُ الاعظم رحمۃُ اللہِ علیہ غلامان پۀ ربیع الآخر کښې خصوصاً او د دې نه علاوه د هرې اِسلامي میاشت پۀ 11 تاریخ پۀ شوق سره د 11 شریف اهتمام کوي. (1)

| | |
|---|---|
| تیرے جَدّ کی ہے بارہویں غوثِ اعظم | ملی ہے تجھے گیارہویں غوثِ اعظم |
| کوئی ان کے رُتبہ کو کیا جانتا ہے | مُحَمَّد کے ہیں جانشیں غوثِ اعظم |
| ہوئے اَولیا ذی شرف گرچہ لاکھوں | مگر سب سے ہیں بہتریں غوثِ اعظم |
| تجھے سب نے جانا، تجھے سب نے مانا | تری سب میں دُھومیں مچیں غوثِ اعظم(2) |

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## امتحان اخستونکي پخپله پۀ امتحان کښې پریوتل

**بَهجَةُ الاَسرَار شریف** کوم چې د حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃُ اللہِ علیہ پۀ سیرت باندې لیکلے شوے د ټولو نه معتبر او مستند کتاب دے، پۀ دې کښې دي: چې کله حضرت شیخ عبد القادر جیلاني رحمۃُ اللہِ علیہ مشهور شو، خلق د هغوئي طرف ته راتلل، د هغوئي بیانونه به یې اوریدل او نیکان به جوړیدل نو بعضې د عِلم والا پۀ څۀ شک کښې شول، نو د بغداد 100 لوئي لوئي عالمان څوک چې ډیر ماهره عالمان او ډیر ذهین وو، هغوئي پۀ خپل مینځ کښې مشوره وکړه او 100 مختلفې دِیني مسئلې یې راجمع کړلې، پۀ دې خبره باندې متفق شول چې ټول به د غوثِ پاک رحمۃُ اللہِ علیہ پۀ خدمت کښې حاضریږي او د خپلې خپلې مسئلې پوښتنه به کوي د پاره د دې چې معلومه شي چې د هغوئي

---

1... جاء الحق، صفحه: 220 خلاصةً۔
2... قبالۂ بخشش، صفحه: 166، 168 ملتقطاً۔

علمي مقام او مرتبه څۀ ده. د ډېر سوچ نه پس يـې د خپل وَس مطابق مشکلې مشکلې مسئلې راوېستلې او د غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه محفل ته حاضر شول.

حضرت شیخ مُفَرَّج رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: زۀ هم هُغه وخت پۀ پاک محفل کښې حاضر ووم. کله چې هُغه عالِمان محفل ته راغلل او کښېناستل نو غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه خپل سر مبارک ښکته کړو، فوراً د هغوئې د سينې مبارکې نه يوه رڼاراووتله او د هُغه ټولو عِلم والؤ پۀ سينو باندې وګرځېدله .

بیا څۀ وو، هُغه رڼا چې د کوم يو عالِم پۀ سينه هم راتېره شوه نو هغۀ حيران پاتې شو او وېرېدلو، هُغه ټولو عِلم والؤ خپل ګرېوانونه وشلول او سر تور سرونه غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ته ورنزدې شول او د هغوئې پۀ ښپو مبارکو باندې يـې سرونه کېښودل! غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه څوک چې د رَحْمَةٌلِّلْعٰلَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شهزاده (يعني اولادِ رسُول) دے، د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ اولاد کښې دے، د هغوئې پۀ هُغه عالمانو باندې رحم راغلے، هغوئې نمبر پۀ نمبر هر يو خپلې سينې ته راجُختولو او فرمائيل به يـې: ستا پوښتنه دا وه او د هغې جواب دا دے. داسې يـې د يو يو عالم ټولې پوښتنې هم پخپله ووئيلې او جوابونه يـې هم پخپله ارشاد کړل!

حضرت شیخ مُفَرَّج رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: وروستو د دې علم والؤ نه پوښتنه وکړے شوه: پۀ تاسو څۀ شوي وو؟ اوئې وئيل: څنګه چې مونږ محفل ته راغلو او کښېناستو، ناڅاپه داسې وشول چې ټول عمر چې مونږ کوم عِلم حاصل کړے وو، ټول زمونږ د سينو نه لرې شو، لکه چې مونږه هډو عِلم حاصل کړے نه وو. **کله چې مونږ حُضُورِ غوثِ پاک** رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه **خپلې مبارکې سينې ته راجُخت کړو نو زمونږه عِلم واپس راغلے.** (فتاویٰ رضویه)

| | |
|---|---|
| گُلِ بُوستانِ نبی غوثِ اعظم | مہِ آسمانِ علی غوثِ اعظم |
| تُو وہ گل ہے باغِ حسین و حسن کا | کہ بُو تیری سب میں بسی غوثِ اعظم |

قدم کیوں نہ لیں اولیا چشم و سر پر | کہ ہیں والیِ ہر وَلی غوثِ اعظم

وضاحت: زمونږه غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ، د نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د باغ خوشبوداره ګل، د اسمانِ ولایت یعني د علي المرتضیٰ رَضِیَ اللهُ عَنْه ځلیدونکې سپوږمۍ ده. غوثُ الاعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حسنین کریمین رَضِیَ اللهُ عَنْهُما د باغ داسې خوشبوداره ګل دے چې د هغوئي په خوشبو باندې د ولایت باغ خوشبوئي کوي، ولې به هر ولي ستاسو قدم د خپل سر تاج نه جوړوي چې تاسو د هر وليُّ الله آقا يئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ہیں پیرِ پیراں ! | غوثِ پاک | ہیں میرِ میراں ! | غوثِ پاک |
| مَحبُوبِ سُبحاں ! | غوثِ پاک | ولیوں کے سُلطاں ! | غوثِ پاک |
| مُشکل ہو آساں ! | غوثِ پاک | دو دَرد کا دَرماں ! | غوثِ پاک |
| فرماؤ اِحساں ! | غوثِ پاک | راحت کا سَاماں ! | غوثِ پاک |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د الله والؤ مقام او مرتبه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دې واقعې نه چې کومه اهمه خبره زمونږ د زدکړې د پاره ده، **هغه دا ده چې هيڅ کله هُم د خپل عِلم او معلوماتو په بهروسه باندې د نيکو خلقو امتحان اخستل نۀ دي پکار. الله** پاک دې مونږه د داسې خلقو او د داسې بے ادبۍ نه محفوظ کړي.

ياد ساتئ! د **الله** پاک چې کوم نيکان بندګان وي، د **الله** پاک په بارګاه کښې د هغوئي ډير لوئي مقام وي، په بخاري شريف کښې حديثِ قُدسي دے، يعني خُله مبارکه د محبوبِ ذيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ده او فرمان د الله ربُّ العَالَمِين دے، **الله** پاک **فرمائي**: مَنْ عَادٰى لِيْ وَلِيًّا فَقَدْ اٰذَنْتُهٗ بِالْحَرْبِ کوم بنده چې زما د يو وَلِي سره دښمني وساتي، زۀ (الله رَبُّ العَالَمِين) د هغۀ سره د

جنګ اعلان کووم.

الله! الله! څومره سخت وعيد دے. لږ غور خو وکړئ! د چا سره چې **الله** پاک د جنګ اِعلان وکړي نو هغۀ پۀ دُنيا او پۀ اخرت کښې د ذِلّت نه څنګه بچ کيدے شي، هيڅکله هم نشي بچ کيدے، لہٰذا مونږ له پکار دي چې د الله والؤ پۀ شان کښې د ګستاخۍ نه ځان وساتو.

*محفوظ سدا رکھنا شہا بے اَدَبوں سے | اور مجھ سے بھی سرزد نہ کبھی بے اَدَبی ہو*[1]

## د الله والؤ پۀ مخکښې پۀ عِلم باندې غرور

د حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ يوه واقعه ده، هغوئي پۀ بغداد شريف کښې پۀ جامعه نظاميه کښې سبق وئيلو، يوه ورځ هغوئي او د هغوئي د مدرسې دوه ملګري اِبنِ سقا او شيخ عبد الله تَمِيمي د غوث نومې يو بزرګ د زيارت د پاره لاړل. پۀ لاره کښې ❀ اِبنِ سقا وه وئيل: زۀ به د دې بزرګ نه د داسې مسئلې پوښتنه کووم چې دے به يې جواب رانکړے شي ❀ شيخ عبد الله تَمِيمي وه وئيل: زۀ به هم ګرانه پوښتنه کووم، ګورم چې هغوئي به يې څۀ جواب راکوي ❀ د حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ څومره ښکلے شان دے، هغوئي وفرمائيل: د **الله** پاک پناه! زۀ خو به هيڅ پوښتنه نه کووم بلکې د هغوئي د زيارت برکت به حاصلووم.

بيا دا درې واړه حضرات د هغه بزرګ پۀ خِدمت کښې حاضر شول، هغوئي چې اِبنِ سقا وليدلو نو پۀ جلال کښې راغلو او اوئې فرمائيل: اے ابنِ سقا! ستا د پاره دې هلاکت وي، تۀ زما نه د داسې مسئلې د پوښتنې د پاره راغلے يې، د کومې چې به ما

[1] ...وسائلِ بخشش، صفحہ: 315۔

له جواب نه راځي. واوره! ستا مسئله دا ده او د دې جواب دا دے. بے شکه زۀ پۀ تا کښې دننه د کُفر بَل شوے وور وينم. بيا يــې شيخ عبد الله تَمِيمِي ته وفرمائيل: تۀ زما د عِلم د امتحان اخستو د پاره راغلے يــې، واوره! ستا پوښتنه دا ده او د دې جواب دا دے او ستا د بے ادبئ پۀ وجه زۀ وينم چې دُنيا به ستا تر غوږونو پورې رارسي.

بيا هُغه بزرګ حُضُورِ غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ته پۀ محبت سره وکتل او اوئې فرمائيل: **اے عبد القادره! تا د ادب پۀ وجه الله او رسول راضي کړو، زۀ وينم چې تاسو د بغداد پۀ منبر باندې ناست يئ او فرمايئ: قَدَمِیۡ هٰذِهٖ عَلٰی رَقَبَةِ کُلِّ وَلِیِّ اللهِ (يعنې زما دا قدم د ټولو وليانو پۀ څټونو باندې دے).**

جس کی منبر ہوئی گردنِ اولیا | اس قدم کی کرامت پہ لاکھوں سلام

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! هُغه نيک بزرګ چې څۀ فرمائيلي وو وروستو بالکل هم هُغسې وشول، ابنِ سقا څوک چې د خپل عِلم پۀ غرور کښې وو، يو وخت راغلو چې دے غير مسلمه شو او د بے ايمانئ پۀ حالت کښې د دُنيا نه رخصت شو، شيخ عبد الله تَمِيمِي چا چې د هغوئي امتحان اخستو، وروستو پۀ دُنيا دارئ کښې اخته شو او حُضُورِ غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ته **الله** پاک ډيره اوچته مرتبه عطا کړله، بيا هُغه وخت هم راغلو چې هغوئي د بغداد پۀ منبر باندې تشريف فرما وو او فرمائيل يــې: قَدَمِیۡ هٰذِهٖ عَلٰی رَقَبَةِ کُلِّ وَلِیِّ اللهِ **(يعنې زما دا قدم د ټولو وليانو پۀ څټونو باندې دے).**

(بهجة الاسرار و معدن الانوار، ذکر اخبار المشايخ عنه بذالک، ص ١٩)

قدم گردنِ اولیا پر ہے تیرا | ہے تو رب کا اَیسا وَلی غوثِ اعظم

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دې واقعې نه معلومه شوه چې د **الله** پاک د وليانو، د نيکانو بندګانو پۀ خدمت کښې چې کله حاضريدل وي نو ادب کول پکار دي، د دې پۀ وجه د الله پاک رحمتونه حاصليږي، قرآني واقعه ده: چې کله جادوګران د حضرت موسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام پۀ مقابله کښې نو د هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام د ادب کولو پۀ وجه **الله**

پاک هغوئي ته د ايمان دولت ورعطا. هغه داسې چې هغوئي د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د ادب کولو په وجه د هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام نه اجازت وغوښتو او عرض يې وکړو:

| | |
|---|---|
| يٰمُوْسٰۤى اِمَّاۤ اَنْ تُلْقِیَ وَ اِمَّاۤ اَنْ نَّكُوْنَ نَحْنُ الْمُلْقِیْنَ ﴿۱۱۵﴾ (پارہ:9، سورۂ اعراف:115) | ترجمۂ کنزُالعِرفان: (جادوګرو) اُووئيل: اے موسیٰ! يا خو تاسو (خپله همسا) واچوئ يا مونږه (څه) اچوو. |

په تفسيرِ قُرطبی کښې ليکلي دي: جادوګرانو د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ادب وکړو او د هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د اجازت نه بغير يې خپل جادو پيش نهٔ کړو، الله پاک د هُم دې ادب په وجه هغوئي ته د ايمان او هدايت دولت عطا کړو.(1) لهٰذا د الله والؤ په دربار کښې د حاضرئ په وخت مونږ ډير زيات ادب کول پکار دي.

د الله پاک د نيکانو بندګانو په مخکښې د خپلو دريو څلورو کتابونو په عِلم باندې غرور نه دې کول پکار، ګني نو د دې سخت نقصان هم کيدے شي. الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

محفوظ سدا رکھنا شہا بے ادبوں سے | اور مجھ سے بھی سرزد نہ کبھی بے ادبی ہو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په زړونو باندې حکومت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږه واوريدل چې 100 عالمان د حُضُورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د امتحان اخستو د پاره راغلل، هغوئي په لږ وخت کښې د هغوئي زړونه قبضه کړل، د ټولو د زړونو نه يې عِلم راښکلو، بيا يې رحم او کرم وفرمائيلو او د ټولو عِلم يې واپس هم کړو. د دې نه معلومه شوه چې الله پاک حُضُورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته په

---

1...قرطبی، پارہ: 9، سورۂ اعراف، زیرِ آیت: 115، جز: 7، جلد: 4، صفحہ: 158۔

زړونو باندې قبضه عطا کړې ده، هغوئي چې کله هم وغواړي، د چا په زړهٔ باندې هم وغواړي قبضه کولے شي.

شیخ شَهَابُ الدِّین سُهَروَردِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي چې زهٔ د خپل ترهٔ صاحب حضرت ابو نَجِیب عبد القاهِر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه سره د حُضُورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه په بارګاه کښې حاضر شوم. مونږ چې تر څو پورې د حُضُورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه په بارګاه کښې حاضر وو، زما ترهٔ صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه با ادبه، په خاموشۍ سره، د غوثُ الاعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه طرف ته متوجه وو او ناست وو، چې کله مونږه د هغه ځائے نه راواپس شو نو ما د ترهٔ صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه نه پوښتنه وکړه: څهٔ وجه ده چې تاسو د حُضُورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه په بارګاه کښې دومره په ادب سره ناست وئ؟

زما ترهٔ صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه وفرمائیل: زهٔ د هغې هستۍ ادب ولې اونه کړم چا ته چې **الله** پاک زما بلکې د ټولو اولیائے کرامو په زړونو باندې او د هغوئي په احوال باندې قبضه عطا کړې ده.

| | |
|---|---|
| واه کیا مرتبہ اے غوث ہے بالا تیرا | اُونچے اُونچوں کے سَروں سے قدم اعلیٰ تیرا |
| سَر بھلا کیا کوئی جانے کہ ہے کیسا تیرا | اولیا مَلتے ہیں آنکھیں وہ ہے تلوا تیرا |
| کیا دَبے جس پہ حِمایت کا ہو پنجہ تیرا | شیر کو خطرے میں لاتا نہیں کُتّا تیرا |
| مصطفٰی کے تنِ بے سایہ کا سایہ دیکھا | جس نے دیکھا مری جاں جلوۂ زیبا تیرا[(1)] |

## زړونه زما په موټې کښې دي

حضرت عمر بَزَّار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: یوه ورځ زهٔ د حُضُورِ غوثِ پاک شیخ عبد القادر جیلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه سره د جامِع مسجد طرف ته روان ووم، د معمول خلاف په

---

[1]... حدائقِ بخشش، صفحہ: 19 ملتقطاً۔

لاره کېنبي چا هم غوثُ الاعظم رَحمَةُ اللهِ عَلَيه ته سلام اونه کړو، زهٔ ډېر حيران شوم او پهٔ زړهٔ کېنبې مې سوچ وکړو چې مخکښې خو به جومات ته د تللو پهٔ وخت ډېر خلق هغوئي ته د سلام کولو د پاره ولاړ وو خو څهٔ وجه ده چې نن هيڅوک هم سلام نه کوي؟

فرمائي: زما سوچ کول وو چې پهٔ دې کېنبې خلق حُضُورِ غوثِ پاک رَحمَةُ اللهِ عَلَيه ته د سلام کولو د پاره راواله شول، پهٔ لږ وخت کېنبې دومره رش جوړ شو چې زهٔ د غوثُ الاعظم رَحمَةُ اللهِ عَلَيه نه لرې شوم، دا حالت چې مې وليدلو نو ما پهٔ زړهٔ کېنبې سوچ وکړو چې افسوس...!! د دې نه خو دا بهتر وه چې هغوئي د خلقو طرف ته توجه نه کوله کم از کم ما ته خو به د غوثُ الاعظم رَحمَةُ اللهِ عَلَيه قرب حاصل وو، دومره سوچ کول وو چې غوثِ پاک رَحمَةُ اللهِ عَلَيه زما طرف ته وکتل او مُسکے شو او اوئې فرمائيل: اَوَمَا عَلِمْتَ اَنَّ قُلُوْبَ النَّاسِ بِيَدِیْ اِنْ شِئْتُ صَرَّفْتُهَا عَنِّیْ وَاِنْ شِئْتُ اَقْبَلْتُ بِهَا اِلَیَّ يعنې آيا تا ته معلومه نه ده چې د خلقو زړونه زما پهٔ قبضه کېنبې دي، که وغواړم نو د خپل طرف نه به يې واړووم او که وغواړم نو د ځان طرف ته به يې متوجه کړم.

اَللهُ اَکْبَر! څومره ښکلے شان دے زما د غوثِ پاک رَحمَةُ اللهِ عَلَيه ....!! د غوثُ الاعظم رَحمَةُ اللهِ عَلَيه عاشق، اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحمَةُ اللهِ عَلَيه پهٔ بارګاهِ غوثيت کېنبې عرض کوي:

| | |
|---|---|
| غرض آقا سے کروں عرض کہ تیری ہے پناہ | بندہ مَجْبُور ہے خاطِر پہ ہے قبضہ تیرا |
| کُنجیاں دِل کی خُدا نے تجھے دِیں ایسی کر | کہ یہ سینہ ہو محبّت کا خزینہ تیرا |

## آيا چا ته پهٔ زړونو باندې قبضه ميلاويدے شي...؟

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د اعلیٰ حضرت رَحمَةُ اللهِ عَلَيه د شعر چې دا کومه مصرع ده:

بندہ مجبور ہے' خاطِر پہ ہے قبضہ تیرا

يو ځل يو عاشقِ رسول د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ په خدمت کښې خط وليکلو او اوئې وئيل: ستاسو دا مصرع چې کومه ده، په دې کښې تاسو ليکلي دي چې حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ په زړونو باندې قبضه لري، دا مصرع ما ته غلطه ښکاري، په **حديثِ پاک کښې خو دا دي چې زړونه د الله پاک په قبضه کښې دي، هغهٔ چې کوم طرف ته وغواړي،** زړونه واړوي، په حديثونو کښې **الله** پاک ته مُقَلِّبَ الْقُلُوب (د زړونو اړوونکے) فرمائيلے شوے دے. بيا د غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ د پاره څنګه وئيلے کيدے شي چې هغوئي په زړونو باندې قبضه لري؟

بيا اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ د دې جواب وليکلو...!! سُبْحٰنَ الله! د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ څهٔ ښکلے شان دے...؟ چې کله علمي بحث فرمائي نو د قرآن او حديث په رڼا کښې داسې داسې دليلونه ورکوي چې رُوح خوشحاله شي او ايمان تازه شي.

علم کا چشمہ ہوا ہے موجزن تحریر میں | جب قلم تم نے اُٹھایا اے امام احمد رضا!

اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ څهٔ جواب ورکړو؟ فرمائي: اَلْحَق (يعنې بالکل حق دي، رښتيا دي چې) هم **الله** پاک مُقَلِّبَ الْقُلُوب (يعنې د زړونو اړوونکے) دے، د ټولو په زړونو، يواځې په زړونو باندې نهٔ بلکې د عالَم په ذره ذره باندې حقيقي قبضه هم د **الله** پاک ده خو (ياد ساتئ!) نهٔ د هغهٔ قدرت محدود دے، نهٔ د هغهٔ د عطا دروازه بنده ده...!! (يعنې **الله** پاک په دې خبره باندې هم قدرت لري چې خپلو نيکانو بندګانو، خپلو وليانو ته هم په زړونو باندې قبضه عطا کړي). **الله** پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهٗ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ ؕ (پاره:28، سورهٔ حشر:6)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: خو الله چې خپلو رسولانو ته په چا باندې غواړي غلبه ورکوي.

معلومه شوه چې **الله** پاک وغواړي نو خپلو محبوبانو ته په ❀ سترګو ❀ غوږونو باندې قبضه عطا کوي ❀ په لاسونو ښپو باندې قبضه عطا کوي ❀ په زړهٔ او دماغو

❁ هوش او حواس باندې قبضه عطا کوي ❁ نهٔ د هغهٔ پهٔ قدرت کښې کمے دے ❁ نهٔ پهٔ عطاګانو کښې تنګي ده.

## پهٔ زړونو باندې د فرښتو قبضه

د دې نه پس اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ د دې يو څو مثالونه ذِکر کړل، ليکي: ❁آيا فرښتې پهٔ زړونو کښې نيکې ارادې نه اچوي؟ د بدو ارادو نه زړونه نهٔ اړوي...؟ بالکل د **الله** پاک پهٔ عطا سره فرښتې پهٔ زړونو کښې نيکې ارادې هم اچوي، د بدو خبرو نه زړونه هم اړوي. پهٔ حديثِ پاک کښې دي: يو ځل سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صلی اللہ علیہ والہ وسلم پهٔ يوه لاره باندې تشريف وړلو، هلته کښې موجودو صحابهٔ کرامو رضی اللہ عنہم ته يې وفرمائيل: آيا تاسو څوک پهٔ دې ځائے پهٔ تيريدلو ليدلے دے؟ عرض يې وکړو: آؤ جي! يا رسول الله صلی اللہ علیہ والہ وسلم ! دِحيَه کَلبِي اوس پهٔ دې ځائے تير شو. اوئې فرمائيل: دا دِحيَه کَلبِي نهٔ وو بلکې جبريل امين علیہ السلام وو، څوک چې د غير مسلمو پهٔ زړونو باندې د رُعب غورځولو د پاره راغلے وو.

معلومه شوه چې **الله** پاک خپلو فرښتو ته دا طاقت عطا کوي چې هغوئې د بندګانو پهٔ زړونو باندې قبضه کوي، د هغوئې پهٔ زړونو باندې رُعب هم اچوي، د خوشحالۍ کيفيات پکښې هم اچوي. چې **الله** پاک فرښتو ته دا طاقت عطا کولے شي نو خپلو نيکانو بندګانو ته دا طاقت ولې نشي عطا کولے...؟ ضرور يې عطا کولے شي او عطا کوي يې هم.

## د شيطانانو او انسانانو پهٔ زړونو کښې وسوسې

اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ نور فرمائي: ❁ د فرښتو شان خو ډير اوچت دے، قرآن ولوله! معلوميږي چې شيطانانو ته هم پهٔ زړونو باندې قبضه ورکړے شوې ده. د قرآنِ

کريم د ټولو آخري دوه آيتونه دي:

الَّذِیْ یُوَسْوِسُ فِیْ صُدُوْرِ النَّاسِۙ﴿۵﴾ مِنَ الْجِنَّةِ وَ النَّاسِ۠﴿۶﴾

(پاره:30، سورۀ ناس:5، 6)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: کوم چې د خلقو په زړونو کښې وسوسې اچوي. د پيريانو او انسانانو نه.

معلومه شوه چې شيطانان او خراب انسانان، دا دواړه هُغه دي کوم چې په زړونو کښې وسوسې اچوي.

بعضې وخت زمونږ سره داسې کيږي ❀ ډير په جوش او جذبه کښې اودس کوو، مصلّیٰ غوړوو، نفلونه ادا کول شروع کړو، زړۀ مو وي چې ټوله شپه به نفلونه کووم، ❀ د قرآنِ کريم د تلاوت د پاره کښينو، زړۀ مو وي چې نن به کم از کم 5 سيپارې خو لولم بيا به پاڅم، ❀ تسبيح راواخلو او کښينو، اراده وي چې نن به 5 زره کرته درودِ پاک لولم، خو زر دا جذبه ختمه شي، بيا په ورو ورو کارونه راياديدل شروع شي، بيا زړۀ ته خيالونه راځي، ❀ نن بس 10 رکعته نفل کووم ❀ بس نيمه سيپاره تلاوت هم کافي دے ❀ د 500 کرته درودِ پاک فضيلت هم ډير دے، دومره لولم، داسې خيالونه راځي، جوش او جذبه کمه شي او مونږ چې څومره سوچ کړے وي، هُغه همره عبادت د زړۀ نه نشو کولے. آخر داسې ولې کيږي، زمونږه زړۀ ولې واوړي؟ شيطان وسوسې اچوي.

شيطان کوم چې مَردُود دے، د **الله** پاک د بارګاه نه رټلے شوے دے، د لعنت طوق د هغۀ غاړې ته اچولے شوے دے، چې هغۀ په زړونو باندې دومره قبضه لري، زړونه اړوي نو آيا د **الله** پاک نيکانو بندګانو ته دومره طاقت هم نشي ميلاويدے چې هغوئي زړونه د ګناهونو نه واړوي او په نيکئ کښې يې مصروف کړي...؟

## د خرابو انسانانو وسوسې

بيا دې ته هم وګورئ! چې **الله** پاک فرمائي:

مِنَ الۡجِنَّةِ وَالنَّاسِ ﴿۶﴾

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: د پيريانو او انسانانو نه.

(پاره:30، سورهٔ ناس:6)

يعنې په زړونو کښې وسوسې صرف شيطان نه اچوي بلکې خراب انسانان يې هم اچوي ❁ بعضې وخت زمونږ په زړهٔ کښې د خپل ورور ډېر محبت وي، يو ګس راشي، زمونږ په مخکښې غيبتونه او چغلياني شروع کړي، دغه محبت په نفرت کښې بدل کړي ❁ چرته که په کور کښې جګړه وغيره وشي، الله پاک مونږ له توفيق راکړي چې مونږ د روغې طرف ته لاړ شو نو د محبتونو غلهٔ راشي، په زړونو کښې وسوسې واچوي او مونږ د نيکئ نه منع کړي ❁ انسان د کور نه د نـمونځ د پاره راووځي، په لاره کښې خراب دوست ميلاؤ شي، هغهٔ يې د جومات نه د بازار طرف ته بوځي.

معلومه شوه چې دا بد انسانان چې کوم دي، دوئي هم په زړونو باندې قبضه کوي، زړونه د نيکئ نه لرې کوي او په ګناهونو کښې يې اخته کوي. چې خرابو انسانانو ته دا طاقت ورکړے شوے دے نو که د الله پاک د وليانو په باره کښې وه وئيلے شي چې هغوئي په زړونو باندې قبضه لري، د خپل کرم په نظر باندې زړونه د ګناهونو نه لرې کوي او په نيکئ کښې يې مصروفه کوي نو په دې کښې څهٔ باک دے...؟

## نُوراني خلق، نُوراني اثرات

په حديثِ پاک کښې دي: د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې پوښتنه وشوه: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! وَلِي څوک وي ؟ اوئې فرمائيل: چا ته چې وګورې او رَبّ راياد شي، هغهٔ وَلِي وي. په يو روايت کښې دي: عرض وکړے شو: د ټولو نه ښه هم نشين (يعني ملګرے د چا سره چې کښيناستے شي) څوک دے؟ اوئې فرمائيل: هُغه خلق چا ته چې د کتلو سره رَبّ راياد شي، د چا خبرې چې واورې او د

عمل جذبه زياته شي، د چا اعمال چې وه وينې نو د آخرت ياد زيات شي **وهم الاوليا** يعنې هُم دغهٔ د **اللّٰه** پاک وَلِيان دي. (نوادر الاصول)

امام ترمذي رحمۃُ اللّٰہِ علیہ د دې **حديثِ پاک** پهٔ شرح کښې ليکي: د **اللّٰه** پاک چې کوم وَلِي وي ❀ رَبِّ کريم د هغهٔ زړهٔ د نُور نه ډک کړي ❀ د هغهٔ پهٔ سترګو کښې هم هٰغه نُور ځليږي ❀ هغهٔ چې کله خبرې کوي نو د هغهٔ پهٔ خبرو کښې نُور ځليږي ❀هغهٔ چې کله څهٔ عمل کوي نو د هغهٔ پهٔ اعمالو کښې هٰغه نُور ښکاري، ځکه د **اللّٰه** پاک د وَلِي د ليدلو سره ❀ زړونه اوړي ❀ د زړهٔ نه غفلت لرې کيږي ❀ د رَبّ ياد پهٔ زړهٔ کښې ځائے کيږي، چې کله د **اللّٰه** پاک د وَلِي خبرې اورو نو د هغهٔ د خبرو پهٔ ذريعه ځليدونکے د زړهٔ نُور زمونږ پهٔ زړهٔ باندې اثر کوي او د زړهٔ نه زنګ لرې کيږي او د نيک کارونو طرف ته اوړي.

معلومه شوه چې د **اللّٰه** پاک وَليانو ته چې کوم نُور عطا کولے شي، د هٰغه نُور پهٔ ذريعه هغهٔ د خلقو پهٔ زړونو باندې حکومت کوي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زمونږه پير، د پيرانو پير، پير دستګير حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃُ اللّٰہِ علیہ صرف ولي نهٔ دے بلکې د وليانو سردار دے، هغوئي ته هم پهٔ زړونو باندې قبضه عطا کړے شوې ده. د هغوئي پهٔ زړونو باندې قبضه څنګه ده؟ واورئ!

## بد اخلاقه هلک توبه وکړه

حضرت ابوحسن قَوّاس رحمۃُ اللّٰہِ علیہ فرمائي: يوه ورځ زهٔ او زما سره ډير خلق د حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃُ اللّٰہِ علیہ د زيارت د پاره روان شول، مونږ ټولو د خپلو مشکلاتو او پريشانو د حل د پاره د دعا کولو اراده لرله، پهٔ لار کښې نور خلق هم زمونږ سره ميلاو شول. پهٔ هغوئي کښې يو هلک وو، ما هغهٔ پيژندلو، دا ډير د خرابو اخلاقو والا وو، اکثر به ناپاکه وو. خير مونږ ټول د غوثيت د بارګاه طرف ته روان وو چې اتفاقاً د حُضُورِ غوثِ

پاک رحمۃ اللہ علیہ سره پهٔ لار کښې ملاقات وشو، مونږ تول ور وړاندې شو او سلام مو وکړو او د هغوئي لاس مبارک مو ښکلول. هُغه هلک د کوم چې اخلاق ښه نه وو، چې کله هغهٔ د حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ د لاسونو ښکلولو د پاره ور وړاندې شو نو حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ خپل لاس لرې کړو، بیا یې یو نظر هُغه هلک ته وکتل، د سرکار غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ د نظر مبارک تاب یې رانه وړو او هُغه هلک بے هوشه شو او راپریوتو، کله چې هغهٔ پهٔ هوش کښې راغلو نو فوراً یې د خپلو بدو اعمالو نه توبه کړه، بیا حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ د هغهٔ سره لاس میلاؤ کړل. [1]

لینے شفائے کاملہ دربار میں اے کامل | بیمارِ عِصیاں آگیا بغداد والے مرشد
ایمان اس کا بچ گیا شیطان سے' جو تیرے | ہے سلسلے میں آ گیا بغداد والے مرشد
کیوں نَزع وقَبر وحشر کا ڈر اَب مُریدوں کو ہو | تو "لا تَخَف" سنا گیا بغداد والے مرشد[2]

❁-❁-❁-❁

| | | | |
|---|---|---|---|
| ہیں پیرِ پیراں! | غوثِ پاک | ہیں میرِ میراں! | غوثِ پاک |
| مَحبُوبِ سُبحاں! | غوثِ پاک | ولیوں کے سُلطاں! | غوثِ پاک |
| مُشکل ہو آساں! | غوثِ پاک | دو دَرد کا دَرماں! | غوثِ پاک |
| فرماؤ اِحساں! | غوثِ پاک | راحت کا ساماں! | غوثِ پاک |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د اللّٰه والؤ پیژندګلو

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږه حدیثِ پاک واوریدو، د اللّٰه پاک وَلِي څوک

---

1 ... قلائد الجواہر، صفحہ: 32 خلاصۃً۔

2 ... وسائلِ بخشش، صفحہ: 545-546 ملتقطاً۔

وي؟ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل چې د **اللّٰه** پاک وَلِي هغهٔ وي، دچا په ا کتلو سره چې رَبّ رایاد شي، د چا خبرې چې واورې نو د عمل جذبه زیاته شي او د هغهٔ اعمال چې وه وینې نو د آخرت یاد زیات شي.

دا درې واړه نخښې پهٔ خپل زړهٔ کښې کښينول پکار دي. ځکه چې

لباسِ خضر میں یہاں سینکڑوں راہزن بھی پھرتے ہیں
اگر جینے کی خواہش ہے تو پہچان پیدا کر

**وضاحت:** د لباسِ خضر نه مُراد **راه نما** دے، او د رهزن مطلب **ډاکو** دے لهٰذا د دې معنیٰ دا شوه چې دلته د راه نما [يعني لار ښود] پهٔ جامو کښې د ايمان ډاکوان هم ګرځي، که د ژوند خواهش دي وي نو څهٔ پیژندګلو پیدا کړه یعني اوپیژنه چې حقیقي راه نما څوک دے.

خومره داسې خلق دي چې د **اللّٰه** پاک د محبت لوئې لوئې دعوې خو کوي، د ځان نه يې لوئې وَليان جوړ کړي وي خو د هغوئې حالت داسې وي چې ❁ هغوئې ته د کتلو سره د رَبّ یاد راتلل خو غټه خبره ده اُلټا غفلت زیاتیږي ❁ د هغوئې د خبرو اوریدو سره زړونه مړه کیږي ❁ د هغوئې اعمال داسې وي چې د **اللّٰه** پاک نه ویره لرونکے غوږونو له لاسونه یوسي، توبه توبه کوي...!! د **اللّٰه** پاک پهٔ ناراضه کوونکو کارونو کښې ډاډه وي ❁ نمونځونه قضا کوي ❁ روژې نهٔ نیسي ❁ صدقه او خیرات نه کوي ❁ د زنانؤ پهٔ شان اوږده اوږده ویښته يې پریښودي وي ❁ نشه ور څيزونه مثلاً بهنګ وغیره څښي او دعویٰ څهٔ ده: مونږ عشق والا یو ❁ زمونږه د **اللّٰه** پاک سره محبت دے.

که دوئې ته د نیکۍ دعوت ورکړے شي، د نمونځ کولو دعوت ورکړے شي، د ګناه پریښودو، د رَبّ د نا راضه کولو کارونو دپریښودو دعوت ورکړے شي نو ډیر پهٔ جرأت سره وائي: صاحبه! نمونځونه تهٔ کوه! مونږ خو رسیدلي خلق یو. لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰه! دعویٰ د **اللّٰه** پاک د محبت...!! کارونه د **اللّٰه** پاک ناراضه کولو او پهٔ دې باندې دومره د جهالت

جرأت...!! نـمونځ د **الله** پاک پهٔ بارګاه کښې حاضري ده، نـمونځ لکه چې د **الله** پاک سره ملاقات دے، نـمونځ کوونکے د نـمونځ کولو سره لکه چې د **الله** پاک پهٔ بارګاه کښې خپل درخواستونه وړاندې کوي، آیا څوک داسې **محبت** کوونکے هم شته چې د خپل **محبوب** سره میلاویدل نه خوښوي، چې د **محبوب** سره د میلاویدو وخت راشي نو وه وائي: زهٔ خو رسیدلے یم، زما د **محبوب** سره د ملاقات حاجت نشته؟ حضرت جنید بغدادي رحمۃُ اللہِ علیہ رښتیا فرمائیلي دي "آؤ! هغهٔ رسیدلے دے خو چرته؟ دوزخ ته." [1]

**الله** پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتّٰى یَاْتِیَكَ الْیَقِیْنُ ﴿۹۹﴾ (پارہ14، سورۃ الحجر:99) | ترجمہ کنزُالعِرفان: او د خپل رَبّ عبادت کوه تر دې چې تا ته مرګ راشي. |

معلومه شوه چې چرته هم رسیدلے یې چې تر څو پورې ژوندے یې، عقل سلامت دے، تر هغه وخته پورې د عبادت نه خلاصیدے نه شې. باقي پاتې شوه د داسې نادانه خلقو **د الله** پاک سره **د محبت** دعویٰ کول نو بعضې صوفیائے کرامو رحمۃُ اللہِ علیہم " **د الله پاک سره د محبت**" تعریف هم دا کړے دے: مُوَاطَاَةُ الْقَلْبِ لِمُرَادَاتِ الرَّبِّ د **الله** پاک د مرضۍ پهٔ مخکښې زړهٔ غوړول. [2]

دا دے د **الله** پاک سره **محبت**...!! معلومه شوه چې کوم بنده خپل ځان د **الله** پاک د احکامو پهٔ مخکښې، د **الله** پاک د رضا والا کارونو پهٔ مخکښې، د **الله** پاک د مرضۍ پهٔ مخکښې نشي ښکته کولے نو هغهٔ لا تر اوسه د **محبتِ الٰهی** میم ته هم نه دے رسیدلے.

---

1... اَلْیَوَاقِیْت وَالْجَوَاہِر، جز:1، صفحہ:206۔
2... رسالہ قشیریہ، صفحہ:350۔

داسې نادانه هیڅکله هیڅکله هم وَلِي نه دے بلکې د دِین دښمن، په مفتو کښې د مشهوریدو طلبګار، د **اللّٰه** پاک بندګان د **اللّٰه** پاک نه لرې کوونکے دے، په مونږ ټولو باندې لازم دي چې د داسې تش په نوم بزرګانو نه ځان بچ ساتو او د خپل ایمان د حفاظت فِکر وکړو. **اللّٰه** پاک دې مونږ ته د صحیح او د غلط ربنتونې پیژندګلو رانصیب کړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم

## زړۀ یــې د غیر اللّٰه نه خالي کړو

حضرت شیخ ابو صالِح مغربي رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي چې زۀ د خپل پیر او مُرشِد په هدایت باندې د فقر (د غیر الله نه د بے نیازی) تعلیم حاصلولو د پاره د غوثِ پاک رحمۃُ اللہِ علیہ په بارګاه کښې حاضر شوم.

یوه ورځ حضرت غوثِ پاک رحمۃُ اللہِ علیہ ما ته وفرمائیل: اے ابو صالِحه! که چرې تۀ فقر حاصلول غواړې نو بغیر د واسطې او وسیلې نه به هغه حاصل نکړے شې. یاد ساته! چې د فقر حاصلولو واسطه توحید دے او د توحید اصل دا دے چې د زړۀ نه د **اللّٰه** پاک نه علاوه د هر چا ویره او خطره ختمه کړې او زړۀ د (غیر الله د ویرې، د دُنیا د محبت، د نفس د خواهشونو د پیروئ نه) بالکل پاک او صفا کړې.

ما عرض وکړو: حُضُورِ هم تاسو ما ته دا خوبي راعطا کړئ. دا خبره چې یــې واوریدله نو حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃُ اللہِ علیہ ما ته د کرم نظر وکړو، زما د زړۀ نه دا (یعني په غیر الله باندې باور کول، د دُنیا محبت، د نفس د خواهشونو د پیروئ کولو) کیفیت داسې لرې شو لکه څنګه چې د ورځې د راتلو سره د شپې تیارۀ ختمه شي، بس هم د دې کرم د نظر صدقه ده چې کار روان دے.

بندہ قَادِر کا بھی، قادر بھی ہے عَبۡدُالقَادِر | سِرِّ باطن بھی ہے ظاہِر بھی ہے عَبۡدُالقَادِر

| | |
|---|---|
| مفتیِ شرع بھی ہے، قاضیِ ملّت بھی ہے | عِلْمِ اَسرار سے ماہِر بھی ہے عَبۡدُالقَادِر |
| ذی تَصَرُّف بھی ہے مَاذُون بھی مختار بھی ہے | کارِ عالَم کا مُدَبِّر بھی ہے عَبۡدُالقَادِر [1] |

وضاحت: زمونږه غوثِ پاک رحمۃُ اللہِ علیہ عبد القادر دے يعني د قُدرتونو والا رَبِّ کريم بنده دے، الله پاک هغوئي ته قُدرت عطا کړے دے، هغوئي د ظاهر او د باطن رازدار دے، د شريعت مفتي هم دے، د مِلَّت قاضي هم دے، د باطني عُلُومو ماهر هم دے، الله پاک هغوئي ته اختيارات عطا کړي دي، هغوئي ته د زمانې د تدبير اجازت هم عطا کړے شوے دے.

## زړۀ د غير نه خالي ساتئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پۀ دې واقعه کښې يو خو دا ذِکر دے چې حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃُ اللہِ علیہ پۀ زړونو باندې حکومت لري او حکومت هم څنګه...؟ پۀ يو نظر سره يې زړۀ د غير الله نه خالي کړو او خالي يې هم داسې کړو چې بيا ټول عمر زړۀ د غير الله طرف ته مائل نه شو...!!

بيا پۀ دې واقعه کښې زمونږ د پاره يو سبق هم دے، که چرې مونږه اوچته مرتبه غوښتل غواړو، د الله پاک پۀ بارګاه کښې قُرب غواړو، د الله پاک د رضا طلبګار يو، دې د پاره به زړۀ د غير الله نه خالي کول وي، د دُنيا محبت، د نفس د خواهشونو پيروي به د زړۀ نه لرې کول وي، نو بيا به زړۀ ته د الله پاک محبت راځي، د الله پاک ياد به پۀ زړۀ کښې ځائے کيږي. د دې هم مونږ ته کوشش کول پکار دي. زړۀ د دُنيا نه لرې کول او د الله پاک پۀ ياد کښې لګول پکار دي.

---

[1] ... حدائقِ بخشش، صفحہ: 69 ملتقطاً۔

## پهٔ زړهٔ کښې به دُنيا اوسيږي يا د الله پاک محبت

حضرت رابعه بصري رَحمَۃُ اللّٰہِ عَلَیہا 7 روژې ونيولې او د شپې يې بالکل ارام ونکړو، پهٔ اتمه ورځ ورته سخته لوږه محسوس شوه او نفس د خوراک فرياد وکړو، هٰغه وخت يو کَس پهٔ لوښي کښې خوراک راوړو او حاضر شو، حضرت رابعه بصري رَحمَۃُ اللّٰہِ عَلَیہا لوښے راواخستو او د ډيوې مړې کولو د پاره پاخيدله، پهٔ دې کښې د چرته نه پيشو راغله، هغې لوښے واړولو، حضرت رابعه بصري رَحمَۃُ اللّٰہِ عَلَیہا چې اوبه څښلې نو ډيوه مړه شوه او د اوبو لوښے پريوتو او مات شو، حضرت رابعه بصري رَحمَۃُ اللّٰہِ عَلَیہا يو سوړ اسويلے وکړو او پهٔ بارګاهِ اِلٰهی کښې يې عرض وکړو: مولیٰ! زما سره دا څهٔ معامله کيږي؟ غيبي اواز راغلو: که د دنيائي نعمتونو طلبګاره يې نو مونږ به يې در عطا کوو خو خپل درد به ستا د زړهٔ نه اوباسو ځکه چې دوه بيل بيل څيزونه پهٔ يو زړهٔ کښې نشي جمع کيدے، د دې نه پس حضرت رابعه بصري رَحمَۃُ اللّٰہِ عَلَیہا خپل زړهٔ د دُنيا د محبت نه داسې خالي کړو لکه څنګه چې مړ کيدونکے پهٔ اخري وخت کښې زړهٔ د دُنيا د خيالونو نه خالي کوي. هر سحر به حضرت رابعه بصري رَحمَۃُ اللّٰہِ عَلَیہا دا دُعا کوله: اِلٰهی! ما خپل طرف ته داسې متوجه کړه چې دُنيا والا ما ستا نه علاوه پهٔ بَل کار کښې مشغوله وه نه ويني. (1)

## د دُنيا او د آخرت پهٔ خپل مينځ کښې رشته

معلومه شوه چې د چا پهٔ زړهٔ کښې د دُنيا محبت وي، پهٔ هغې کښې مَحبَّتِ اِلٰهی راتلل مشکل دے. حضرت عيسیٰ رُوحُ الله عَلَیہِ السَّلام فرمائي: [لکه څنګه چې] اوبه او وور پهٔ يو لوښي کښې نشي جمع کيدے، هم داسې د دُنيا او د آخرت محبت پهٔ يو زړهٔ کښې

---

1...تذکرة الاولياء، باب هشتم، ذکر رابعة رحمة الله عليها، ۷۳/۱.

نشي راجمع کيدے. [1] د مسلمانانو څلورم خليفه، شيرِ خُدا، عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی رضی اللہ عنہ فرمائي: دُنيا او اخرت دوه بَنې دي، څومره چې د يوې نه راضي وي، دويمه به درنه دومره خفه وي. [2]

## چا چې څۀ وغوښتل ورعطا يـې کړل

د شيخ محمد بِن محفوظ رحمۃ اللہ علیہ بيان دے: يو ځل ډير پيران د سرکارِ غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ پۀ خدمت کښې حاضر وو، حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ وفرمائيل: خپل خپل حاجتونه بيان کړئ، څوک چې څۀ غواړې ورته به ميلاويږي.

د غنيمت موقع وه، ټولو مشائِخو خپل خپل حاجتونه بيانول شروع کړل، چا عرض وکړو: زۀ د مُجَاهَدې (يعنې پۀ نيکو کښې د بنه ډير کوشش کولو) طاقت غواړم. چا عرض وکړو: زۀ د اللّٰه پاک نه د ويرې طلب ګار يم، چا عرض وکړو: زۀ خپل وخت محفوظ کول (يعنې پۀ ذِکرُ الله کښې مشغول اوسيدل) غواړم، چا عرض وکړو: زۀ پۀ عِلم کښې اضافه غواړم. ❁ شيخ خليل رحمۃ اللہ علیہ عرض وکړو: زۀ قُطب جوړيدل غواړم ❁ شيخ اَبُو البَرَکات رحمۃ اللہ علیہ عرض وکړو: زۀ د اللّٰه پاک پۀ محبت کښې ډيره اضافه غواړم ❁ شيخ اَبُو الفَتُوح رحمۃ اللہ علیہ عرض وکړو: زۀ د قرآنِ کريم او د حديثِ رسول حافظ جوړيدل غواړم.

داسې ټولو خپل خپل حاجتونه بيانول، چې کله ټولو عرض وکړو نو سرکارِ غوثِ اعظم شيخ عبد القادر جيلاني رحمۃ اللہ علیہ وفرمائيل: **مونږ د ټولو پۀ حاجتونو کښې د ټولو مدد کوو.**

---

1... احياء العلوم، کتاب ذم الدنيا، بيان ذم الدنيا، ۲۵۳/۳.

2... احياء العلوم، کتاب ذم الدنيا، بيان ذم الدنيا، ۲۵۸/۳.

شيخ اَبُو الخير رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: پهٔ **الله** پاک باندې مې دې قَسم وي! پهٔ هغه مجلس کښې چې چا څهٔ هم غوښتلي وو، هغوئي ته هم هغه ميلاؤ شول ❁ شيخ حضرمي رحمۃُ اللہِ علیہ چا چې د قرآنِ پاک د حفظ کولو خواهش ظاهر کړے وو، **الله** پاک هغوئي ته توفيق عطا کړلو او هغوئي پهٔ شپږو مياشتو کښې ټول قرآنِ کريم حفظ کړو ❁ هم داسې شيخ جميل رحمۃُ اللہِ علیہ چا چې عرض کړے وو چې زهٔ خپل وخت محفوظ کول غواړم (يعني هر وخت پهٔ ذِکرُ الله کښې مشغوليدل) غواړم، دا دې درجې ته ورسيدو چې هر وخت به تسبيح ورسره وې او پهٔ ذِکرُ الله کښې به مصروف وو، تر دې پورې چې قضائے حاجت له به تللو نو تسبيح به يــې کوټۍ ته زوړندولې او د هغه تسبيح دانې به پخپله رواني وې.

❁ شيخ محمد بن محفوظ رحمۃُ اللہِ علیہ ځوک چې دا واقعه بيانوي، هغوئي فرمائي: زما زړهٔ ته به مختلف خيالونه راتلل، ما به پهٔ هغې کښې فرق نشو کولے چې کوم يو خيال د **الله** پاک د طرف نه دے او کوم يو خيال د **الله** پاک د طرف نه نهٔ دے، نو ما عرض وکړو: حُضُورِ! چې ما ته داسې معرفت [يعني پيژندګلو] ميلاؤ شي چې د زړهٔ پهٔ ارادو کښې فرق وکړے شم، چې ما ته معلومه شي چې کوم يو خيال د **الله** پاک د طرف نه دے او کوم يو خيال د **الله** پاک د طرف نه نهٔ دے. زما عرض چې يــې واوريدو نو حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃُ اللہِ علیہ زما پهٔ سينه باندې لاس کيښودو، د دې سره زما پهٔ زړهٔ کښې يو نُور روښانه شو، تر ننه پورې هغه نُور ځليږي، د دې پهٔ برکت زهٔ د زړهٔ پهٔ ارادو کښې فرق کووم. [(1)]

سُبْحٰنَ الله! پهٔ زړونو باندې څومره زبردسته قبضه ده، څنګه حکومت دے...!!

---

[1]... بَهْجَةُ الْاَسْرَار، صفحه: 98-102 خلاصةً.

يو ځل يـې لاس مبارک کېښودلو، پۀ زړۀ کښې داسې نُور روښانه شو چې د ټول عمر د پاره د هدايت ذريعه جوړه شوه.

## د شيخ شِهَابُ الدِّين سُهروَردِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه واقعه

د سلسلهٔ سهروردیه عظیم پیشوا شیخ شِهَابُ الدِّین سُهروَردِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: پۀ ځوانئ کښې زما د عِلمِ کلام لوستلو سره ډېر شوق وو، ما د دې عِلم ډېر کتابونه هم حفظ کړي وو، زما ترۀ صاحب به زۀ د دې عِلم د لوستلو نه منع کولم خو زما دا عِلم ډېر خوښ وو، ځکه به زۀ د دې عِلم د کتابونو لوستلو نه نۀ منع کيدم.

د عِلمِ کلام وضاحت: عِلم کلام د عقيدو پۀ باره کښې عِلم دے، پۀ دې کښې د اِسلام او نورو مذهبونو د عقيدو پۀ باره کښې بحث کيږي، عِلمِ کلام بنه عِلم دے بلکې تر يو حده پورې عِلمِ کلام زده کول خو پۀ فرض علومو کښې شامل دے، البته پۀ دې عِلم کښې د حد نه پۀ زيات مشغوليدو کښې خطره ده، کله انسان پۀ دې عِلم کښې د زيات مشغوليدو له وجهې د بد مذهبئ بلکې بعضې وخت پۀ کُفر کښې هم اخته کيږي.

خير! شيخ شِهَابُ الدِّين سُهروَردِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: يوه ورځ زما ترۀ صاحب زۀ د ځان سره کړم او د حُضُورِ غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه پۀ خدمت کښې حاضر شو. زما ترۀ صاحب زما طرف ته اشاره وکړه او عرض يـې وکړو: حُضُورِ! دا زما وراره عمر دے، دا د عِلمِ کلام کتابونه لولي، ما دا منع هم کړو خو دا نه منع کيږي. د ترۀ صاحب خبره چې يـې واوريدله نو سرکار غوثِ اعظم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه زما طرف ته متوجه شو او اوئې فرمائيل: تاسو د عِلمِ کلام کوم کوم کتابونه حفظ کړي دي؟ ما د کتابونو نومونه واخستل.

بيا سرکار غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زما پۀ سينه باندې لاس راښکلو نو زما نه د عِلمِ کلام ټولې خبرې هيرې شوې لکه چې ما هېڅ يادې کړې نه وې. پۀ **الله** پاک

باندې مې دې قَسم وي! حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ لاس راښکلو او زما سينه يې يواځې د عِلمِ کلام نه خالي نه کړه بلکې زما سينه يې د عِلمِ لَدُنِّي (يعنې د الله پاک د عطا کړے شوي خاص عِلم) نه هم ډکه کړله.

| | |
|---|---|
| بندہ قَادِر کا بھی، قادر بھی ہے عَبۡدُالقَادِر | سِرِّ باطن بھی ہے ظاہر بھی ہے عَبۡدُالقَادِر |
| مفتیِ شرع بھی ہے، قاضیِ ملّت بھی ہے | عِلمِ اَسرار سے ماہِر بھی ہے عَبۡدُالقَادِر |
| ذی تَصَرُّف بھی ہے مَاذُون بھی مختار بھی ہے | کارِ عالَم کا مُدَبِّر بھی ہے عَبۡدُالقَادِر (1) |

❁-❁-❁-❁

| | | | |
|---|---|---|---|
| ہیں پیرِ پیراں ! | غوثِ پاک | ہیں میرِ میراں ! | غوثِ پاک |
| مَحبُوبِ سُبحاں ! | غوثِ پاک | ولیوں کے سُلطاں ! | غوثِ پاک |
| مُشکل ہو آساں ! | غوثِ پاک | دو دَرد کا دَرماں ! | غوثِ پاک |
| فرماؤ اِحساں ! | غوثِ پاک | راحت کا ساماں ! | غوثِ پاک |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## عِلمِ دِين زده کړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د دې واقعې نه مونږ ته دا سبق ميلاوٶ شو چې دنيائي عِلم اګر چې جائز دے خو د اخرت فائده هُم پۀ عِلمِ دِين کښې ده ❁ دا خو عِلمِ دِين لوستونکي دي چې کله د کور نه ووځي نو فرښتې د هغوئي پۀ قدمونو ته وزرې غوړوي ❁ ټول مخلوق تر دې پورې چې پۀ درياب کښې مهيان [کبان] هم د دوئي د پاره دُعاګانې کوي ❁ د عِلمِ دِين د پاره سفر کوونکي طالب عِلم ته د جنَّت لاره اسانولے

---

1 ... حدائقِ بخشش، صفحہ: 69 ملتقطاً۔

شي. ځکه مونږ له پکار دي چې عِلمِ دِين زده کړو، دې له اهميت ورکړو، عِلمِ دِين مو زده کړو، څومره دِيني عِلم زده کول چې فرض دے، هٰغه همره مو زده کړو، بيا که غواړو نو د دُنيا عِلم هم زده کړو. البته! وړومبے عِلمِ دِين زده کړئ. **الله** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| كُوْنُوْا رَبّٰنِيّٖنَ (پاره:3، سورهٔ آلِ عمران:79) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: الله والا جوړ شئ. |

يعني الله والا جوړ شئ! څنګه کيدل دي؟ د عِلمِ دِين پهٔ زده کولو، د قرآنِ کريم پهٔ زده کولو، پهٔ حديثونو مبارکو زده کولو، د دِين پهٔ پوهه حاصلولو.

## عِلمِ دِين زده کول ولې ضروري دي؟

پهٔ يو بَل ځائے کښې **الله** پاک وفرمائيل:

| | |
|---|---|
| وَ لٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ يَعْلَمُوْنَ ظَاهِرًا مِّنَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚۖ وَ هُمْ عَنِ الْاٰخِرَةِ هُمْ غٰفِلُوْنَ ۝ (پاره:21، سورهٔ روم:6، 7) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: خو اکثر خلق نه پوهيږي. د سترګو وړاندې دُنيائي ژوند پيژني، او هغوئي د آخرت نه بالکل غافله دي. |

د دې آيت مبارک پهٔ تفسير کښې علّامه نسفي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: دلته **الله** پاک د جهالت دوه قِسمونه بيان کړي دي: **(1):** يو جهالت دا دے چې بنده هډو پهٔ څهٔ پوهيږي نه، لکه څنګه چې دلته زياتره خلق بالکل اَن پړه وي، هغوئي له خپل نوم ليکل هم نه ورځي **(2):** د جهالت دويم قِسم دے:

يَعْلَمُوْنَ ظَاهِرًا مِّنَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚۖ وَ هُمْ عَنِ الْاٰخِرَةِ هُمْ غٰفِلُوْنَ ۝

يعني هٰغه کَس کوم چې د ظاهري دُنيا معلومات خو ډير لري خو د اخرت نه بالکل غافله دے، هغهٔ ته اګر چې اَن پړه هم نه وئيلے کيږي، البته هغهٔ هم جاهل دے.

اوس وګورئ! څومره چې دُنیائي علوم دي، هُغه مونږ ته صرف د ظاهر حال بیانوي، مثلاً ❀ په ریاضی کښې مونږ ته حساب کتاب (**Calculation**) ښودلے کیږي ❀ په فزکس کښې د مادې (**Matter**) په باره کښې معلومات ورکړے کیږي، مثلاً یو بدن حرکت څنګه کوي، ودریږي څنګه؟ د دې خاصیتونه څۀ دي؟ وغیره ❀داسې بائیولوجي (**Biology**) ده، په دې کښې د ساه لرونکو په باره کښې معلومات وي ❀ ارضیات (**Geology**)، فلکیات (**Astronomy**)، بینکنګ (**Banking**)، انجنیئرنګ (**Engineering**) وغیره وغیره چې څومره علوم دي، په دې ټولو کښې هُم د ظاهري دُنیا معلومات دي.

د اخرت معلومات: مثلاً ❀ د اللّٰه پاک پیژندګلو ❀ د رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہ علیہ وآلہٖ وسلّم شان ❀ د جنَّت او د دوزخ ❀ د قیامت معلومات ❀ په اخرت کښې کوم یو څیز نقصان رسوونکے دے ❀ کوم یو څیز به فائده رسوي ❀ په اخرت کښې د نجات دار او مدار په کومه خبره باندې دے؟ ❀ ایمان څۀ دے؟ ❀ نیکي څۀ ته وئیلے شي؟ ❀باطني بیمارۍ څۀ دي؟ ❀ د دې علاج څۀ دے؟ وغیره وغیره دا ټول معلومات مونږ ته د کوم ځائے نه میلاویږي؟ د قرآنِ کریم نه، د حدیثونو نه، د علمائے دِین په لیکلے شوو کتابونو کښې میلاوېږي او دې ته عِلمِ دِین وئیلے شي.

ځکه د ضرورت مطابق دُنیائي علوم حاصلول اګر چې جائز دي خو د اخرت په لحاظ سره فضیلت صرف هُم د عِلمِ دِین دے.

## د عِلمِ دِین ځانګړي فضائل

د حضرت مُعاذ بن جبل رضی اللّٰہ عنہ نه روایت دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہ علیہ وآلہٖ وسلّم وفرمائیل: عِلم حاصل کړئ! ځکه چې ❀ د اللّٰه پاک د رضا د پاره عِلم زده

کول د **اللّٰه** پاک نه ويره ده ❀ د عِلم تلاش کول عبادت دے ❀ د عِلم تکرار کول (يعنې سبق د يادولو د پاره بيا بيا لوستل) تسبيح ده ❀ بے عِلمه ته عِلم ښودل صدقه ده ❀ عِلم د دې پۀ اَهل باندې خرچ کول نيکي ده ❀ عِلم د حلالو او حرامو د پيژندلو ذريعه ده ❀ عِلم د جنَّت والؤ د لارې نخښه ده ❀ عِلم د راحت سبب دے ❀ عِلم د سفر ملګرے دے ❀ عِلم د تنهايئ ملګرے دے ❀ عِلم دلاس پۀ تنګئ او خوشحالئ کښې راهنما دے ❀ عِلم د دښمنانو پۀ مقابله کښې وسله ده ❀ عِلم د دوستانو پۀ نزد ښکلا ده ❀ **اللّٰه** پاک د عِلم پۀ ذريعه قومونو ته اوچت والے عطا کوي ❀ **اللّٰه** پاک د عِلم پۀ ذريعه قومونه امامان جوړوي، بيا د هغوئې پيروي کولے شي [يعنې پۀ هغوئې پسې تللے شي]❀ د علماؤ رائے اخري حرف ګڼلے شي ❀ فرښتې د علماؤ پۀ دوستئ کښې رغبت کوي ❀ د علماؤ د پاره وچه او لـمده، تر دې پورې چې پۀ سمندر کښې مهيان او د وچې ځناور تول د بخښنې دعاګانې کوي ❀ عِلم د زړۀ ژوند دے ❀ عِلم پۀ تيارۀ کښې د سترګو نُور دے ❀ د عِلم پۀ ذريعه بنده د اولياۓ کرامو منزلونو ته رسي ❀ عِلم د عمل امام دے ❀ عمل د عِلم تابع دے ❀ د خوش قِسمتو پۀ زړونو کښې عِلم اچولے شي ❀ خو بدبختهٔ د عِلم نه محرومه کولے شي.

**اللّٰه** پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي، چې مونږه عِلم دِين زده کړو او پۀ دې باندې عمل کولو والا جوړ شو. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم.

## د قادري کيدلو برکتونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ ته **اللّٰه** پاک ډير اوچت مقام عطا کړے دے، د هغوئې نسبت نصيب کيدل هم ډيره د برکت او سعادت خبره ده. حضرت شيخ ابو عبد الله محمد رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: حضرت شيخ عبد القادِر جيلاني غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ د خپلو مُريدانو د پاره د دې خبرې ضامن دے چې

پهٔ هغوئي کښې به يو کَس هم بغير د توبې نه نهٔ مرِ کيږي او هغوئي ته دا فضيلت ورکړے شوے دے چې د هغوئي مُريد او تر 7 پيړو پورې د هغوئي د مريدانو مريدان به جنَّت ته داخليږي.

شيخ ابو سَعود عبد الله رحمۃ اللہ علیہ بيانوي: زمونږه شيخ مُحیُ الدِّين عبد القادر جيلاني رحمۃ اللہ علیہ د خپلو مريدانو د پاره تر قيامته پورې د دې خبرې ضامن دے چې پهٔ هغوئي کښې به څوک هم بغير د توبې نه نهٔ مرِ کيږي.

## مُريد جوړ شئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! که تاسو اوسه پورې د چا جامع شرائط پير نه بيعت نه وي کړے نو مشوره ده چې پهٔ قادريه سلسله کښې مُريد جوړ شئ او د حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ سره خپل نسبت جوړ کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! پهٔ دِين او پهٔ دُنيا کښې به مو بے شميره برکتونه نصيب شي. ياد ساتئ! مُريد جوړيدل ډير ضروري دي. **الله** پاک د قرآنِ کريم پهٔ شپږمه سيپاره، سورة المائده، آيت:35 کښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَابْتَغُوْۤا اِلَيْهِ الْوَسِيْلَةَ (پاره:6، سورۃ المائدۃ:35) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: اے ايمان والؤ! د الله نه ويَريږئ او د هغهٔ طرف ته وسيله ولټوئ. |

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃ اللہ علیہ د دې آيت لاندې فرمائي: د هر څيز د لټولو د پاره دروازې بيلې بيلې دي، د هرې سودا د کوشش د پاره بازارونه او دکانونه بيل بيل دي، د هٔغه څيز پهٔ لټون کښې دې دروازو، دې دکانونو، بازارونو ته تلل وي، که **الله** پاک لټوئ نو د حُضُورِ پاک صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم پهٔ دروازه باندې او که حُضُورِ پاک صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم لټوئ نو د اولياءَ الله رحمۃ اللہ علیہم پهٔ

دروازو باندې. [1] نور فرمائي: پهٔ دې آیت کښې د تقوىٰ نه پس د وسیلې د لټولو حکم شوے دے او وئیلے شوي دي چې یو متقي د تقوىٰ یوې درجې ته د رسیدلو سره د وسیلې نه نشي بے نیازه کیدلے، ځکه دې یو متقي مسلمان دا نهٔ ګڼي چې زهٔ خو متقي شوے یم اوس ما ته اللّٰه پاک ته د رسیدو د پاره د څهٔ وسیلې ضرورت نشته، لکه څنګه چې مومن د اعمالو او تقوىٰ حاجت مند دے هم داسې هر متقي د وسیلې محتاج دے. [2]

## د بیعت برکتونه

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د یو کامِل پیر نه د مُرید جوړیدو ډیر برکتونه او فائدې دي، مثلاً د دې پهٔ برکت سره د ایمان حفاظت نصیب کیږي ✿ د نـمونځ روژې پابندي نصیب کیږي ✿ د حلالو او د حرامو پیژندګلو نصیب کیږي ✿ د مسلمان احترام او ایماني جذبه نصیب کیږي ✿ د شیطان نه حفاظت کیږي ✿ پهٔ زړهٔ کښې د عبادت شوق او د قرآنِ کریم د تلاوت ذوق نصیب کیږي ✿ د بد صحبت نه د بچ کیدو ذهن جوړیږي ✿ د ګناهونو نه توبه نصیب کیږي ✿ د دِین او د دُنیا پریشانۍ لرې کیږي ✿ د انسان کردار ښه کیږي.

اوس واورئ! د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت، باني دعوتِ اِسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِیَه نه د بیعت کولو سره خلقو ته کومې کومې فائدې حاصلې شوې دي، کوم کوم برکتونه نصیب شوي دي ✿ د امیرِ اهلِسُنَّت د مُرید جوړیدو سره پهٔ لکونو بے نـمانځه نـمونځ ګزاره جوړ شوي دي بلکې جُمعه ورکوونکي یعنې امامان جوړ شوي دي ✿ حافظان جوړ شول ✿ پهٔ زرګونو عالمان جوړ شوي دي ✿ مفتیان جوړ شوي دي ✿ حافظان جوړ شوي دي ✿ پهٔ

---

1... تفسیرِ نعیمی، پارہ: 6، سورۂ مائدہ، تحت الآیۃ: 35، جلد: 6، صفحہ: 402 ملخصًا۔

2... تفسیرِ نعیمی، پارہ: 6، سورۂ مائدہ، تحت الآیۃ: 35، جلد: 6، صفحہ: 394 ملتقطًا۔

کور کښې د دِين ماحول جوړ شوے دے ❀ کيرې يې پريښودې دي ❀ عمامې يې په سر کړې دي ❀ د مدينے محبت يې نصيب شوے دے ❀ د حج رغبت يې پيدا شوے دے ❀ ډير پکښې حاجيان جوړ شوي دي ❀ د نعتونو وئيلو ❀ د نعتونو اوريدو ذوق او شوق يې نصيب شوے دے ❀ عشقِ رسول يې نصيب شوے دے ❀ د غوثِ پاک او اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہما تعارف ورته حاصل شوے دے. داسې که مونږه غور وکړو نو داسې به په سوؤنو مثالونه وي کوم چې به د اميرِ اهلِسُنَّت د مُريد جوړيدو په برکت نصيب شوي وي. غرض دا چې د مُريد جوړيدو په برکت انسان په دُنيا او په اخرت کښې سعادت مند کيږي.

## د بيعت تعارف، فائدې او فضيلتونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! سلسله عاليه قادريه ډيره د برکت والا سلسله ده اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شيخِ طريقت امير اهلسنت دامت برکاتہم العالیہ په قادريه سلسله کښې بيعت کړے دے، سيدي اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ هم په قادريه سلسله کښې بيعت کړے وو او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! باقي پاتې چې څومره هم د طريقت سلسلې دي سلسلهٔ نقشبنديه، سلسلهٔ سهرورديه، سلسلهٔ چشتيه په دې ټولو کښې هم د غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ فيضان رسي. د سلسله عاليه قادريه شهنشاه سيدي غوثِ پاک شيخ عبد القادر جيلاني رحمۃ اللہ علیہ دے او دا سلسله اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علي المرتضیٰ رضی اللہ عنہ ته او د هغوئي نه وړاندې خوږ آقا او مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم ته رسي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دامت برکاتہم العالیہ د خپل پير او مرشِد حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ سره بے حده محبت کوي. راځئ د غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ سره د هغوئي د محبت يو څو ايمان تازه کوونکي مثالونه وګورئ:

(1): د امیرِ اهلِسُنَّت دامت برکاتهم العالیه لیکلے شوے د نعتونو دیوان **وسائلِ بخشش** د امیرِ اهلِسُنَّت دامت برکاتهم العالیه د حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیه سره د محبت واضحه دلیل دے پهٔ کوم کښې چې امیرِ اهلِسُنَّت دامت برکاتهم العالیه د حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیه پهٔ شان مبارک کښې ډیر کلامونه او غوثیه نعرې هم لیکلې دي. (2): امیرِ اهلِسُنَّت دامت برکاتهم العالیه د حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیه د خاندان، آل او اولاد، د غوثُ الاعظم رحمۃ اللہ علیه د مزار مبارک، ګنبد او منارې، د غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیه د ښار غرض دا چې د غوثُ الاعظم رحمۃ اللہ علیه سره د تعلق او نسبت لرونکي هر یو څیز سره ډیر زیات محبت کوي. هُم داسې د غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیه آل اولاد هُم د امیرِ اهل سُنَّت دامت برکاتهم العالیه سره ډیره مینه کوي، د مُلکِ شام نه تشریف راوړونکي یو عالِمِ دین چې د حضورِ غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیه د اولاد نه دے، چې کله هغوئي نه دا تپوس وشو چې تاسو د امیرِ اهل سُنَّت سره دومره محبت کوئ د دې څهٔ وجه ده نو هغوئي وفرمائیل: مولانا الیاس قادري دامت برکاتهم العالیه بیشمیره خلق د غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیه پهٔ سلسله کښې داخل کړل او دا سلسله یې ډیره عامه کړه ځکه مونږه دوئي سره دومره محبت کوو. (3): اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د امیرِ اهلِسُنَّت د تربیت پهٔ برکت باندې د لوئي یولسمي شریف پهٔ لویه شپه باندې پهٔ ملک او بهر ملکونو کښې **اجتماعِ غوثیه** کولے شي، پهٔ کومو کښې چې کله ❀ د غوثِ اعظم رحمۃ اللہ علیه شان ❀ نو کله د غوثِ اعظم رحمۃ اللہ علیه سیرت ❀ کله د غوثِ اعظم رحمۃ اللہ علیه د خاندان ❀ نو کله د غوثِ اعظم رحمۃ اللہ علیه د کردار وغیره پهٔ موضوعاتو باندې د سُنَّتو نه ډک بیانونه او د مناقبِ غوثِ اعظم رحمۃ اللہ علیه سلسله کیږي. امیرِ اهلِسُنَّت دامت برکاتهم العالیه د حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیه د یولسمي شریف پهٔ شپه کښې عاشقانِ رسول ته د **بغدادي نسخې** د استعمالولو ترغیب ورکوي. دا بغداي نُسخه څهٔ ده؟ راځئ چې پهٔ دې باره کښې هم واورو:

د رَبیعُ الآخر پهٔ يولسمه شپه ټول کال د مصيبتونو نه د حفاظت پهٔ نيت سره د سرکارِ غوثِ اعظم رحمۃُاللہِ علیہ يولس نومونه (اوّل او آخِر يولس کرته دُرُود شريف) ولولئ او پهٔ کجورو باندې يــې دم کړئ او پهٔ هُغه شپه باندې يــې وخورئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ټول کال به د مصيبتونو نه حفاظت کيږي. يولس نومونه دا دي: (1): سيِّدمُحْیُ الدِّیْن سلطان (2): مُحْیُ الدِّین قطب (3): مُحْیُ الدِّین خواجه (4): مُحْیُ الدِّین مخدوم (5): مُحْیُ الدِّین ولي (6): مُحْیُ الدِّین بادشاه (7): مُحْیُ الدِّین شيخ (8): مُحْیُ الدِّین مَوْلٰنا (9): مُحْیُ الدِّین غوث (10): مُحْیُ الدِّین خليل (11): مُحْیُ الدِّین. [1]

الله کريم دې زمونږ د ټولو د امير اهلسنت دامت برکاتہم العالیہ او د اميرِ اهلِسُنَّت دامت برکاتہم العالیہ پهٔ وسيله د حُضُورِ غوثِ پاک رحمۃُ اللہ علیہ ربښتوني ښخه غلامي رانصيب کړي او زمونږه خاتمه دې پهٔ ايمان باندې وکړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم .

## پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مَدَني قافله

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول دِيني تحريک دعوتِ اِسلامي پهٔ ټوله دُنيا کښې د دِين پيغام عام کولو کښې مصروف دے ❀ پهٔ زړهٔ کښې د عشقِ رسول د شمعې بلولو ❀ د صحابهٔ کرامو او د اهلِ بيتو د فيضان ❀ د غوث او د خواجه فيضان ❀ او د رضا د فيضان موندلو د پاره تاسو هم د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي د ديني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ! د دعوتِ اِسلامي پهٔ 12 ديني کارونو کښې ښه پوره عملي طور برخه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دين او د دنيا بے شميره برکتونه به مو نصيب شي.

---

[1] ۔۔۔ جنات کا بادشاہ، صفحہ: 18۔

✿ بے شکه د نیکۍ دعوت ورکول، پهٔ دې لاره کښې سخته تیرول د انبیائے کرامو عليهم السّلام سُنَّت دي، ✿ د دِین کار پهٔ سختو تیرولو، پهٔ قربانو ورکولو کیږي ✿ انبیائے کرام عليهم السّلام ✿ صحابهٔ کرام رضی الله عنهم ✿ نیکان خلق به د نیکۍ د دعوت ورکولو د پاره د خپلو کورونو نه وَتَل ✿ لرې پرتو علاقو ته به تلل ✿ هجرت به یې کولو او سخته به یې تیروله او د دین پیغام به یې عام کولو ✿ د مخکښینو خلقو پهٔ قربانو مونږ ته دِین رارسیدلے دے.

✿ د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اِسلامي هم پهٔ دې لاره باندې روان دے ✿ پهٔ ټوله دنیا کښې د دِین د پیغام عام کولو د پاره پهٔ لکونو عاشقانِ رسول د مَدَني قافلو پهٔ شکل کښې ملک ملک، ښار ښار، کلي کلي ته ځي او د نیکۍ دعوت عام کوي ✿ د مَدَني قافلو پهٔ برکت باندې ډیرو کافرانو کلمه وئیلي ده او مسلمانان شوي دي ✿ د لکونو پهٔ ژوند کښې د نیکو سپرلے راغلے دے ✿ اَلْحَمْدُلِلّٰه! د 3 ورځو، 12 ورځو، یو مياشت او د 12 میاشتو قافلې سفر کوي.

✿ تاسو هم پهٔ مَدَني قافله کښې سفر وکړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ډیر برکتونه به مو نصیب شي ✿ پهٔ مَدَني قافله کښې فرض عِلمِ دِین ښودلے شي ✿ سُنَّت ښودلے شي ✿ د تهجدو کولو سعادت میلاویږي ✿ د نیکۍ د دعوت عام کولو موقع میلاویږي ✿ د قافلې پهٔ برکت سره د دعاګانو پوره کیدو ✿ د سختو لرې کیدو ✿ د بیمارانو د شفا نصیب کیدو هم پهٔ سوونو واقعات دي ✿ داسې هم شوي دي چې پهٔ مَدَني قافله کښې د سفر کوونکو عاشقانِ رسول د ډاډګیرنې د پاره خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّى الله عليه واٰله وسلّم کرم فرمائیلے دے، پهٔ خوب کښې یې تشریف راوړے دے او پهٔ قافله کښې برخه اخستونکو له یې دیدن ورکړے دے.

چې مونږ پهٔ مَدَني قافله کښې سفر وکړو نو څهٔ پته لګي چې پهٔ مونږ باندې هم

کرم وشي. کم از کم هره مياشت د 3 ورځو پهٔ مَدَني قافله کښې د سفر نيت وکړئ!
راځئ چې د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلے واورو:

## د باغ ځانګو

د حيدرآباد پهٔ يوه محله کښې د علاقائي دورې د دعوت نه د متاثره کيدو سره يو ماډرن ځلمے جومات ته راغلو. پهٔ بيان کښې پهٔ مَدَني قافلو کښې د سفر کولو ترغيب ورکړے شو نو هغهٔ پهٔ مَدَني قافله کښې د سفر کولو د پاره نوم وليکو. د قافلې پهٔ روانيدو کښې لا يو څو ورځې پاتې وې چې هغه ځلمے وفات شو. پهٔ کور والؤ کښې يو ګس هغهٔ پهٔ خوب کښې پهٔ داسې حالت کښې وليدو چې هغهٔ پهٔ يو شين باغ کښې ډير خوشحاله دے او پهٔ ځانګو کښې ځانګي. خوب ليدونکي ترينه پوښتنه وکړه چې دلته څنګ راغلې؟ هغه ځلمي جواب ورکړو چې د دعوتِ اِسلامي د مَدَني قافلې سره راغلے يم، اللّٰه پاک ډير کرم فرمائيلے دے، زما مور ته ووايه چې زما غم نه کوي، زهٔ دلته ډير پهٔ سکون کښې يم.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
پاؤگے بخششیں قافلے میں چلو | جنّتیں بھی ملیں، قافلے میں چلو

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د صِرَاطُ الـجنان ايپلي کيشن تعارف

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُلِلّٰہ! دعوتِ اِسلامي مونږ ته د جديد ټيکنالوجۍ پهٔ ذريعه هم د عِلمِ دِين ښودلو او د نيکۍ د دعوت عام کولو موقعې راکوي. د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې ***Sirat ul Jinan Quran & Tafsir*** (صِرَاطُ الـجنان قرآن

ايندږ تفسير) دے. پۀ دې ايپلي کيشن کښې ❀ مکمل قرآنِ کريم ❀ د اعلىٰ حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت، شاه امام احمد رضا خان رحمۃ اللہ علیه ليکلې ترجمۀ کنز الايمان ❀ اسانه ترجمه کنز العرفان او ❀ پۀ اسان انداز کښې ليکلے شوے تفسير **صِرَاطُ الْجنان** شامل دے. ❀ قرآنِ کريم، ترجمه او تفسير پۀ آډيو (**Audio**) کښې هم اوريدے شئ. ❀عام طور هره ورځ تلاوت کيدونکي سورتونه بيل جمع کړے شوي دي ❀ د مَدَني چينل تفسيرِ قرآن او مختلف قرآني پروګرامونه هم د دې ايپلي کيشن پۀ ذريعه پۀ اسانئ سره کتے شئ ❀ نور دا چې قرآني آيتونه، ترجمه او تفسير پۀ وټس ايپ (***Whats App***)، پۀ فيس بُک (***Facebook***) وغيره باندې د خپلو دوستانو سره شيئر کولے هم شئ. دا ايپلي کيشن پۀ خپل موبائل کښې انسټال کړئ، عِلمِ دِين زده کړئ او نورو ته د رسولو سره د نيکئ د دعوت عام کولو ثواب هم حاصل کړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

امیرِ اهلِ سُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د ربيع الآخر د مياشتې پۀ مقدّسو ساعتونو کښې د حضرت غوثِ اعظم شيخ عبدالقادر جيلانی رحمۃ اللہ علیه پۀ سيرتِ مبارک باندې مشتملې درې جامِع رسالے ليکلې دي: پۀ دې کښې د غوث پاک رحمۃ اللہ علیه حياتِ مبارک، د هغوئي کرامات او روحاني فُيُوض او برکات پۀ تفصيل سره بيان کړے شوي دي. دا رسالے د غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیه د بے مثاله شخصيّت، د هغوئي تعليماتو او **الله** پاک ته د نزدې کوونکې لارې طرف ته د عقيدتمندو رهنمائي کوي.
اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د دې د لوستلو سره به ستاسو ايمان نور مضبوط شي او زړۀ به مو د **الله** پاک پۀ محبّت روښانه شي.

د دې رسالو نومونه دي (1) : جنات کا بادشاہ (2) : منے کی لاش (3) : سانپ نما جن

تاسو دا رسالے ❁ جنات کا بادشاہ **قیمت 28 روپے** ❁منے کی لاش **قیمت 26 روپے** او ❁سانپ نما جن **قیمت 25 روپے** کښې د مکتبةُ المدينه د کوم شاخ نه هُم طلب کړئ، پخپله يـې هُم ولولئ او نورو ته هُم د دې ترغيب ورکړئ. ❁د يوولسمې شريفې پهٔ مبارکه موقع دا رسالے تقسيم کړئ او د علمِ دين عام کولو ثوابونه وګټئ، د يوولسمې شريفې د نياز [خيرات] سره سره ډيرې ډيرې رسالے تقسيم کړئ. **فيضانِ غوثيه پيکج** د مکتبةُ المدينه نه پهٔ **200 روپئ** قيمتاً طلب کړئ.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان پهٔ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به پهٔ جنّت کښې زما سره وي. [(1)]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا!

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د مسواک کولو سُنَّت او آداب

**د آخري نبي، رسول الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2 فرامين: (1):** دوه رکعته د مسواک سره ادا کول بغير د مسواک نه د 70 رکعتونو نه افضل دي. [(2)] **(2):** د مسواک استعمال

---

1... تاریخ دمشق، جلد: 9، صفحہ: 343۔
2... اَلتَّرْغِیْب وَالتَّرْهِیْب، کتاب: الطهارۃ، الترغیب فی السواک، صفحہ: 86، حدیث: 18۔

د ځان د پاره لازمي کړئ ځکه چې پهٔ دې کښې د خُلې صفائي او د **الله** پاک د رضا سبب دے. (1)

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! ❁ حُضُورِ نبي پاک صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هره شپهٔ بیابیا مسواک کولو، د اوده کیدو پهٔ وخت هم او د راببداریدلو پهٔ وخت هم ❁ بغیر د ښه نیت نه د مسواک کولو سره خو به طِبي فائدې حاصلې شي خو ثواب به نه میلاویږي، مثلاً که د اوداسه د پاره مسواک کول وي نو دا درې نیتونه وکړئ: د **الله** پاک د رضا، د سُنَّت ادا کولو او د ذِکر او درود د پاره د خُلې پاکولو پهٔ غرض مسواک کووم ❁ مشائخِ کرام فرمائي: څوک چې د مسواک عادت لري پهٔ ځنکدن کښې به ورته کلمه وئیل نصیب کیږي ❁ د حضرت عبد الله ابن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې پهٔ مسواک کښې 10 خوبیانې دي: خُله صفا کوي، ووریځ مضبوطوي، نظر تیزوي، بلغم لرې کوي، د خُلې بدبوئي ختموي، د سُنَّت موافق دے، د مسواک کولو سره فرښتې خوشحالیږي، د مسواک کولو سره رَبّ رضا کیږي، مسواک نیکۍ زیاتوي او معده صحیح کوي ❁ مسواک پهٔ ښې لاس کښې داسې نیسئ چې قچۍ ګوته د دې نه لاندې او د مینځ درې ګوتې بره او غټه ګوته یې پهٔ سر وي ❁ مسواک چې کله د استعمال قابل پاتې نهٔ شي نو غورځوئ یې مه ځکه چې دا د سُنَّت ادا کولو آله ده، پهٔ احتیاط سره یې پهٔ یو ځائے کښې کیږدئ یا یې ښخ کړئ یا یې د کاڼي وغیره وزن سره وتړئ او پهٔ سمندر (یا سیند وغیره) کښې یې ډوب کړئ. (2)

یاد ساتئ! د روژې پهٔ حالت کښې هم مسواک کول سُنّت دي، **البته** که د

---

1… مسند امام احمد، جلد: 2، صفحہ: 438، حدیث: 5869۔

2… 550 سنتیں اور آداب، صفحہ: 47-50۔

مسواک جوولو پۀ وخت ترينه ريشې لرې کيږي يا يې خوند محسوسيږي نو داسې مسواک نه دې کول پکار. (1)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اِسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

| | |
|---|---|
| جو ہیں وَقف، سنّت کی خدمت کی خاطر | نہیں حشر میں بخشوا غوثِ اعظم |
| سفر قافلے میں جو کرتے ہیں ہر ماہ | انہیں حشر میں بخشوا غوثِ اعظم |
| جو دیں راہِ مولا میں بارہ مہینے | انہیں حشر میں بخشوا غوثِ اعظم (2) |

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1... فتاویٰ رضویہ، جلد: 10، صفحہ: 511۔
2... وسائلِ بخشش، صفحہ: 550-551 ملتقطاً۔